د افغانستـــــان اســـــلامي امارت

د ارشــــــاد، حج او اوقافو وزارت

د مساجدو د ارشاد او انسجام رياست

د ارشـــــــاد او دعوت آمريت

د خطبو د تنظيم عمومي مديريت

---

دجمعي ورځ ، دخطبې لارښود مؤرخ1443/12/30هجری قمری مطابق :7 /1401/5هجری شمسی

| د رسول الله صلی الله علیه وسلم په سنّتو د عمل کولو اهمیت او ضرورت |
|---|

إنَّ الحَمْدُ لِلَّهِ نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ ، مَنْ يَهْدِهِ اللَّهُ فَلاَ مُضِلَّ لَهُ ، وَمَنْ يُضْلِلْ فَلاَ هَادِىَ لَهُ ، وَأَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ أرسله بالحق بشيرا ونذيرا بين يَدَي الساعة، من يطع الله ورسوله فقد رشد ، ومن يعصهما فإنه لا يضرُّ إلا نفسه ، ولا يضرُّ الله شيئا أَمَّا بَعْدُ.

قال الله سبحانه وتعالى في محكم كتابه وهو اصدق القائلين أعوذ بالله من الشيطان الرجيم{لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِمَنْ كَانَ يَرْجُو اللَّهَ وَالْيَوْمَ الْآخِرَ وَذَكَرَ اللَّهَ كَثِيراً} الاحزاب: (21)

وقال رسول الله صلی الله علیه وسلم:(إِنَّ أَحْسَنَ الحَدِيثِ كِتَابُ اللَّهِ، وَأَحْسَنَ الهَدْيِ هَدْيُ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) صحيح البخارى

**ګرانو حاضرینو او اوریدونکو!**

الله جل جلاله محمدرسول الله صلی الله علیه وسلم ددې لپاره انسانانو ته رالیږلی دی؛ ترڅو بنده ګانو د بندګانو دخالق پیغام ورسوي او اسلامي شریعت ورته بیان کړي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم د الله جل جلاله اسلامي شریعت په دوه ډوله انسانانو او په خاصه توګه مسلمانانو ته بیان کړی، یو د جلي وحي له لارې چې هغه قرآن کریم دی او بل د خفي وحي له لارې چې هغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم سنت دي.

دپیغمبر علیه السلام سنت د وحي دوهمه نوعه او دشریعت دوهمه مرجع ده.

درسول الله صلی الله علیه وسلم په سنتو دعمل کولو معنا داده چې د ژوند په هره برخه کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم لار او طریقه خپل کړو.په عباداتوکې ، په معاملاتو کې، په خوراک او څښاک کې ، په ناسته او ولاړه کې او خوب کې، په کور کې په ټولنه کې ، په حضر کې او په سفر کې ، په اخیستلو او خرڅولو کې او دخلکو سره په تعامل کې دپیغمبرعلیه السلام لار تعقیبولو ته په سنتو عمل کول ویل کیږي.

سنت هم په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندې د وحي په ذریعه نازلیږي.

الله جل جلاله فرمايلي دي: {وَمَا يَنْطِقُ عَنِ الْهَوَى . إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُوحَى }النجم: (4)

ترجمه: او (محمدصلی الله علیه وسلم ) د خپل ځانه خبری نه کوي؛ نه دی دا (قرآن) مګر وحی ده چې هغه ته کیږي.

o

الله جل جلاله فرمايلي دي: ﴿وَأَنزَلْنَا إِلَيْكَ الذِّكْرَ لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ إِلَيْهِمْ وَلَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُونَ﴾ النحل:44

ترجمه: او نازل کړی دی مونږ تا ته قرآن کریم ددې لپاره چې بیان کړی خلکو ته هغه څه چې دوی ته نازل شوي دي او ددې لپاره چې خلک فکر او غور وکړي.

امام قرطبي وايي: ترڅو بیان کړی خلکو ته هغه احکام چې په قرآن کریم کې دي د وعد او وعید څخه په خپل قول او فعل سره .[الجامع لأحكام القرآن]

همدا راز رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: (أَلاَ إِنِّي أُوتِيتُ الْكِتَابَ وَمِثْلَهُ مَعَهُ) سنن أبي داود

ترجمه: خبردار! ماته قرآن کریم را کړل شوی دی او د قرآن کریم سره حدیث هم راکړل شوي دي.

په یو مرسل حدیث کې راځي:(كَانَ جِبْرِيلُ عَلَيْهِ السَّلَامُ يَنْزِلُ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالسُّنَّةِ كَمَا يَنْزِلُ عَلَيْهِ بِالْقُرْآنِ، وَيُعَلِّمُهُ إِيَّاهَا كَمَا يُعَلِّمُهُ الْقُرْآنَ) المراسيل لأبي داود

ترجمه: جبرائیل علیه السلام به رسول الله صلی الله علیه وسلم ته دسنتو وحی راوړله لکه څرنګه به چې یې د قرآن کریم وحي ورته راوړله او سنت به یې ورته داسې ښودل لکه څرنګه چې یې قرآن کریم ورته ښودلو.

پیغمبرعلیه السلام د سنتو له لارې مونږ. ته د قرآن کریم مجمل احکام شرح او توضیح کړي دي او د اسلامي شریعت حکمونه حلال او حرام ، جائز او ناجائز، فرض او واجب، فضائل او مستحبات یې راته راښوولي دي.

سنت د رسول الله صلی الله علیه وسلم د اقوالو، افعالو، اخلاقو او سیرت څخه عبارت دی.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم په سنتو عمل کول د لاندې دلائلو په بنا مهم او ضروري دي:

۱-د رسول الله صلی الله علیه وسلم په سنتو عمل کول دپیغمبرعلیه السلام اطاعت کول دي او څوک چې د رسول الله صلی الله اطاعت کوي په حقیقت کې دالله تعالی اطاعت کوي.

الله تعالی فرمایلي دي:{وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوا}الحشر: 7

ترجمه: څه چې تاسو ته رسول (صلی الله علیه وسلم) درکوي هغه واخلئ او له څه شي نه مو چې منع کوي له هغه نه منع شئ.

په یو بل آیت شریف کې فرمایي:{ مَنْ يُطِعِ الرَّسُولَ فَقَدْ أَطَاعَ اللَّهَ } النساء:80.

ترجمه: هغه چا چې د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) اطاعت وکړ یقینا چې دالله تعالی اطاعت یې وکړ.

په صحیح حدیث شریف کې راځي: (من أطاعني فقد أطاع الله، ومن عصاني فقد عصى الله) متفق عليه

ترجمه: چاچې زما اطاعت وکړ په حقیقت کې د الله تعالی اطاعت یې وکړ او څوک چې زما څخه نافرماني وکړي په حقیقت کې دالله تعالی نافرماني یې وکړه.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم اطاعت کامیابي ده.

الله تعالی فرمایي: {وَمَنْ يُطِعِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ فَازَ فَوْزًا عَظِيمًا} الأحزاب:71

ترجمه: او څوک چې د الله تعالی او دهغه د رسول اطاعت وکړي ، بیشکه کامیاب شو په لویه کامیابی سره.

۲- د پیغمبرعلیه السلام په سنتو عمل کول، رسول الله صلی الله علیه وسلم پسې په افعالو، اقوالو او اخلاقو کې اقتداء کول دي او پیغمبر علیه السلام داقتداء لپاره غوره نمونه ده.

الله تعالی فرمایلي دي: { لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِمَنْ كَانَ يَرْجُو اللَّهَ وَالْيَوْمَ الْآخِرَ وَذَكَرَ اللَّهَ كَثِيرًا} الأحزاب: 21

ترجمه: بیشکه ستاسو لپاره دالله تعالی په پیغمبر کې د نیکۍ غوره نمونه ده، دهغه چا لپاره ده چې دالله تعالی او دآخرت د ورځې هیله من وي او الله تعالی ډیر ډیر یادوي.

۳- د رسول الله صلی الله علیه وسلم په سنتو عمل کولو کې د پیغمبرعلیه السلام پیروي او تابعداري نغښتې ده.

۴- درسول الله صلی الله علیه وسلم په سنتو عمل کول، د پیغمبر علیه السلام سره دمحبت علامه ده.

او د پيغمبرعليه السلام سره محبت كول دكامل ايمان نښه ده.
الله تعالى فرمايلي دي:{ قُلْ إِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّونَ اللَّهَ فَاتَّبِعُونِي يُحْبِبْكُمُ اللَّهُ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ }آل عمران:31
الله جل جلاله خپل محبت د رسول الله صلى الله عليه وسلم په اتباع پورى تړلى دى او درسول الله صلى الله عليه وسلم اتباع دهغه په سنتو عمل كول دي.
امام حسن بصرى رحمه الله ددې آيت په تفسير كې داسې فرمايي: (فَكَانَ عَلَامَةَ حُبِّهِ إِيَّاهُمُ اتِّبَاعُ سَنَةِ رَسُولِهِ)[تفسير ابن أبي حاتم]
ددوى سره دالله جل جلاله د محبت علامه د پيغمبرعليه السلام د سنتوعملي كول ده.
۵- په سنتو په عملي كولو باندې رسول الله صلى الله عليه وسلم امر كړى دى.
رسول الله صلى الله عليه وسلم په يو حديث شريف كې صحابه كرامو ته داسې نصحيت وكړ: (أُوصِيكُمْ بِتَقْوَى اللَّهِ وَالسَّمْعِ وَالطَّاعَةِ وَإِنْ كَانَ عَبْدًا حَبَشِيًّا، فَإِنَّهُ مَنْ يَعِشْ مِنْكُمْ بَعْدِي، فَسَيَرَى اخْتِلَافًا كَثِيرًا، فَعَلَيْكُمْ بِسُنَّتِي وَسَنَّةِ الْخُلَفَاءِ الرَّاشِدِينَ الْمَهْدِيِّينَ، عَضُّوا عَلَيْهَا بِالنَّوَاجِذِ) سنن الدارمي
ترجمه: زه درته د الله تعالى څخه په ويره وصيت كوم او دحاكمانو او اميرانو په اطاعت وصيت كوم ولو كه حبشي غلام هم وي، بيشكه څوک چې ستاسو څخه ژوندي پاتي شو زيات اختلاف به ووينې دامت ترمنځ په تاسو زما دسنتو عملي كول لازم دي او دخلفاى راشدينو دسنتو عملي كول لازم دي، كلک ونيسئ دا سنت زما په خپلوغاښونو كې.
۶- د رسول الله صلى الله عليه وسلم سنت را ژوندي كول زيات اجر لري.
رسول الله صلى الله عليه وسلم بلال ابن الحارث ته داسې وفرمايل:(إِنَّهُ مَنْ أَحْيَا سُنَّةً مِنْ سُنَّتِي قَدْ أُمِيتَتْ بَعْدِي، فَإِنَّ لَهُ مِنَ الأَجْرِ مِثْلَ مَنْ عَمِلَ بِهَا مِنْ غَيْرِ أَنْ يَنْقُصَ مِنْ أُجُورِهِمْ شَيْئًا) وقال الترمذى : هذا حديث حسن
ترجمه: څوک چې زما هغه سنت را ژوندي كړي چې زما څخه وروسته خلكو پريښي وي هغه لپاره هغومره اجر دى لكه څوک چې وربانده عمل كوي؛ بې له دې چې دهغوى د اجرونو څخه څه كم شي.
۷- څوک چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم په سنتوعمل وكړي دپيغمبرعليه السلام سره به په جنت كې وي.
په يو حديث شريف كې راځي: ( وَمَنْ أَحْيَا سُنَّتِي فَقَدْ أَحَبَّنِي، وَمَنْ أَحَبَّنِي كَانَ مَعِي فِي الجَنَّةِ) سنن الترمذي ت شاكر
ترجمه: انس ابن مالک وايي چې ماته پيغمبرعليه السلام داسې وفرمايل: څوک چې زما سنت را ژوندي كړي له ما سره يې محبت وكړ او څوک چې له ما سره محبت وكړي له ما سره به په جنت كې وي.
۸-د سنتو پيروي كول كاميابي ده او دسنتو مخالفت هلاكت دى.
په حديث شريف كې راځي: (عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِكُلِّ عَمَلٍ شِرَّةٌ وَلِكُلِّ شِرَّةٍ فَتْرَةٌ فَمَنْ كَانَتْ فَتْرَتُهُ إِلَى سُنَّتِي فَقَدْ أَفْلَحَ وَمَنْ كَانَتْ إِلَى غَيْرِ ذَلِكَ فَقَدْ هَلَكَ) مسند أحمد

۹-په سنتو عمل دنجات ذريعه ده او داعمالو دقبليدو معيار دى.
دامام زهري رحمه الله څخه روايت دى چې هغه داسې وفرمايل: په سنتو منګولى لږول د نجات ذريعه ده.
لكه څرنګه چې امام مالک رحمه الله ويلى دي سنت لكه كشتى داسې ده څوک چې كشتى ته وخوت نجات يې وموند او څوک چې دكشتى څخه پاتې شو هلاک شو.
امام سفيان ثورى رحمه الله فرمايي: پرته دعمل خبره نه قبليږي او وينا او عمل درست نه دى سمى؛ مګرپه نيت سره او هيڅ وينا، عمل او نيت درست نه دي؛ مګر د سنتو په پيروى كې.[المجالسة وجواهر العلم ]
۱۰- څوک چې درسول الله صلى الله عليه وسلم د سنتو مخالفت كوي؛ د رسول الله صلى الله عليه وسلم په لاره نه دى.
رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: (فَمَنْ رَغِبَ عَنْ سُنَّتِي فَلَيْسَ مِنِّي) متفق عليه
د عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دى چې هغه فرمايلي دي:( لو تركتم سنة نبيكم لضللتم) [جامع بيان العلم وفضله لابن عبدالبر].كه چيرې د خپل پيغمبر سنت مو پريښودل ګمراه به شي.
۱۱-دين به هغه كمزورى شي چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم سنت له منځه لاړشي.

**قال عبد الله بن الدّيلميّ– رضي الله عنه–: (بلغني:إِنَّ أَوَّلَ ذَهَابِ الدِّينِ تَرْكُ السُّنَّةِ، يَذْهَبُ الدِّينُ سُنَّةً سُنَّةً، كَمَا يَذْهَبُ الْحَبْلُ قُوَّةً قُوَّةً)**

**سنن الدارمی**

ابوبکر صديق رضي الله د پيغمبرعليه السلام دسنتو داتباع په اړه فرمايي: **(لست تاركا شيئا كان رسول الله صلى الله عليه وسلم يعمل به إلا عملت به إني أخشى إن تركت شيئا من أمره أن أزيغ) صحيح مسلم او صحيح بخاري**

ترجمه: زه د هغه څه پريښودونکي نه يم چې پيغمبر عليه السلام به وربانديې عمل کولو، زه ددې څخه ويريږم چې که زه د رسول الله صلى الله عليه وسلم له کارونو څخه څه پريږدم داسلام له لارې به واوړم.

**د رسول الله صلى الله عليه وسلم د سنتو دعملي کولو فائدې:**

۱-دالله جل جلاله محبت ترلاسه کول.

۲-د الله جل جلاله مرسته او نصرت لاس ته راوړل. څوک چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم دسنتو خيال ساتي الله تعالى به ورسره مرسته او کومک وکړي او دنيکی لوری ته به توفيق ورکړي.

۳- ددعاء قبليدل. څوک چې دپيغمبرصلى الله عليه وسلم سنت په ځان عملي کوي الله تعالى د قرب او نږدي والى په وجه الله به يي دعاګاني قبلوي.

۴- په سنتو عمل کولو سره د فرائض په کامله توګه ترسره کيږي. که څوک لمونځ کوي او په ادس کې سنت مراعت کړي بيا به لمانځه کې سنت مراعت کړي په حقيقت کې کامل او پوره لمونځ يي ادا کړ، خو که چيرې څوک په اودس او لمانځه کې سنت مراعت نه کړي لمونځ يي ادا کړ خو لمونځ به يي بښايست نه لري.

۵- دګناهونو څخه خلاصون. علماء کرام وايي څوک چې دپيغمبر عليه السلام دسنتو خيال ساتي دګناهونو څخه به په امن کې وي.

۶-په زړه کې د معرفت زياتوالى.

أبو العبّاس بن عطاء رح ويلي دي:**«مَنْ أَلْزَمَ نَفْسَهُ آدَابَ السُّنَّةِ غمَرَ اللَّهُ قَلْبَهُ بِنُورِ الْمَعْرِفَةِ، وَلَا مَقَامَ أَشْرَفُ مِنْ مُتَابَعَةِ الْحَبِيبِ فِي أَوَامِرِهِ وَأَفْعَالِهِ وَأَخْلَاقِهِ وَالتَّأَدُّبِ بِآدَابِهِ قَوْلًا وَفِعْلًا وَنِيَّةً وَعَقْدًا» [حلية الأولياء وطبقات الأصفياء لأبى نعيم الأصفهانى]**

ترجمه: څوک چې په خپل نفس باندې د سنتو آداب لازم کړي الله تعالى به يي زړه د معرفت په روښنايي سره ډک کړي او ددې څخه چې د پيغمبر عليه السلام د آوامرو، افعالو،اخلاقو اتباع وشي بله اوچته مرتبه نشته. او په قول، فعل نيت او اراده کې دهغه آدابو رعايتول.

۷-هدايت ، فلاح او کاميابي د رسول الله صلى الله عليه وسلم دسنتو په اتباع کې ده.

الله جل جلاله فرمايي:**{ وَإِن تُطِيعُوهُ تَهْتَدُوا }النور:5**

همدا وجه ده ځينې علماؤ ويلي دي: (من أمر السنة على نفسه قولا وفعلا نطق بالحكمة) روح المعاني

ترجمه: چاچې په ځان باندې قولا او فعلا سنت عملي کړل ، د علم او حکمت خبرى به کوي.

والسلام عليكم ورحمة الله وبركاته